Australian Government
Department of Immigration and Border Protection

TIS TRANSLATING AND INTERPRETING SERVICE

# غیر انګریزي ژبې خبرې کوونکو لپاره وار وار پوښتل کیدونکي پوښتنې

## پښتو

### کوم خدمتونه TIS National وړاندې کوي؟

بیړني /فوري ټیلیفون، مخکې نه تیارشوی ټیلفون کولو وخت او په ځای کې ژباړي خدمتونه TIS National هغه خلکو ته څوک چې په انګریزي ژبه خبرې نشي کولای او موسسو او سوداګریو ته چې اړتیا لري د خپلو غیرانګریزي ژبي خبرې کوونکومراجعینوسره په اړیکه کې شي وړاندي کوي. دا خِدمتونه غیرانګلیسي ژبي خبرې کوونکي په دی جوګه کوي چې په خپلواکه توګه په آسترالیا کی خِدمتونو اومالوماتو ته لاسرسی ولري.

غیر انګریزي ژبي خبرې کوونکي کولای شي د 450 131 TIS National شمیرې ته د زنګ وهلوله لاری ټیلیفوني ژباړونکي ته فوري لاسرسی ولري. یا په بدیل ډول، که تاسو یو سازمان/دفتر سره په مستقیمه توګه اړیکه ونیسئ هغوی کیدای شي ستاسو په وکالت د یو ژباړونکي بندوبست وکړي.

### زه د TIS National له لارې چا سره اړیکه نیولای شم؟

څه د پاسه 20,000 اداري، د Department of Immigration and Border Protection په ګډون د TIS National سره ثبت شویدي. زموږ ځینې مراجعینو کې دا شامل دي:

- ایالت او فدرال حکومت وزارتونه
- ځایی شوراګانې
- طبي او روغتیایي اجراکوونکي
- درمل جوړونکي
- هغه شرکتونه چې د خدمتونو نه یې ګټه اخیستل کیږي
- د مراسِلاتو شرکتونه
- عاجِل خدمتونه
- حقوقي/قانوني خدمتونه
- د استوګنې او تولنې خدمت چمتو کوونکي

د TIS National دفتر د دی ضمانت نشي کولای چې سازمانونه به کوم چې تاسو اړتیا لری ورسره په اړیکه کی شئ هغوی به د TIS National ټیلیفون ته چې د ژباړونکي دمرستې له لارې شوی ومنې.

## زه کوم وخت کولای شم TIS National ته زنګ ووهم؟

د TIS National فوري ټيليفوني ژباړې خدمت د کال په هره ورځ، 24 ساعته شتون لري.

هغه اِداره چې تاسو ورسره اړيکه نيسئ ممکن هغوئ منظم يوازې کاري ساعتونو کې شتون ولري او کاري ساعتونه د اِداراتو ترمنځ توپير لري. د آستراليا زياتره اِدارې د رسمي معياري وخت دننه د سهار 9 بجو څخه ترغرمی وروسته 5 بجو ، د دوشنبی څخه ترجمعی ورځو کی اجرآت کوي. ډيری اِدارې به د عمومي رخصتيو په ورځو کی رخصت وي.

## کوم وخت چې زه 131 450 شميری ته زنګ ووهم څه تمه بايد ولرم؟

کوم وخت چې TIS National ته زنګ ووهی، تاسو سره به د TIS National انګريزي ژبې چلوۀنکې /آپريټر روغ بړ وکړي څوک چې به وپوښتي د کومی ژبې ژباړۀنکي ته اړتيا لرئ. پس لدينه چې تاسو د ژبی غوښتنه وکړه، د انتظار په حالت کی به وساتل شئ ترڅو هغه د يو شته ژباړونکي لټون وکړي. مهرباني وکړئ ان که د ساز ږغ هم نوي ټيليفون په غوږ کی ونيسئ.

که ستاسو د ژبې ژباړونکي شتون ولري، چلوۀنکی به تاسو د ژباړۀنکي سره وصل کړي او پوښتنه به وکړي چې کومه اِداره مو پکارده چې ورسره اړيکه ونيسئ. مهرباني وکړئ کوم وخت چې TIS National ته زنګ وهئ د اِداری نوم دهغوئ ارتباطي شميره او ستاسو دمراجع يا د سازمان سره ستاسو د حساب شميره (که وي) تياره ولرئ.

زموږ ټيليفون چلوۀنکې به بی پلوه پاتی شي او نشي کولای سپارښتنه وکړي چې د کومی اِداری سره اړيکه ونيسئ. کوم وخت چې تاسو د ژباړونکي سره په اړيکه کی شوئ، ژباړۀنکې به تاسو سره په غيررسمي خبرواترو کی بُوخت نشي ځکه چې هغوئ بايد په ټولو ژباړې دندوکی ناپيلی پاتی شي.

ژباړونکی به د TIS National چلوۀنکي ته وواېي چا سره تاسو اړتيا لرئ چې په اړيکه کی شئ اوبيا به چلوۀنکې زنګ ووهي او تاسو او ژباړونکې به دغوښتل شوی اِداری سره وصل کړي.

که ستاسو د ژبې ژباړونکی شتون ونه لري، چلوۀنکې به تاسو نه وغواړي ژربيرته زنګ ووهئ. که تاسو د يوی نه په زياتو ژبو کی خبری کولای شئ، اِحتِمال لري چې تاسو نه وغوښتل شي د يوی بلی ژبې ژباړووۀنکی وغواړئ.

## که زه هغه ژباړووۀنکې چې TIS National ورسره په اړيکه کې کړی يم وپيژنم څه بايد وکړم ؟

که تاسو وپوهيدئ چې ژباړونکې پيژنی، دا ستاسو اختياردی چې د ژباړې کارته دوام ورکوئ که نه. که مو نه غوښتل چې د عين ژباړونکي کار ته دوام ورکړئ، د TIS National چلوۀنکي يا اِداری ته وواييئ او ټيليفون بند کړئ.

## آيا زه د يوه نارينه يا ښځينه ژباړونکي غوښتنه کولای شم؟

هو. که تاسو د يوه ځانګړي جِنس ژباړونکی غوره يا ترجيح ورته ورکوئ، د TIS National چلوۀنکي يا اِداری ته وواييئ چې هرڅومره ژر چې کيدای شي تاسو ورسره په اړيکه کی کړي. د TIS National دفتر به هڅه وکړي ترڅو د هغه جِنس يو ژباړونکی چې تاسو يی غوښتنه کړيده برابر کړي.

## آيا زه د يوه ځانګړي دين او مذهب يا کلتوري سابقې لرونکي ژباړونکي غوښتنه کولای شم؟

نه. د TIS National چلوۀنکي ژباړونکو ته کارونه دهغوئ د صلاحيت د سطحی او شونتيا په اساس ورکوي، او نشي کولای يو ژباړونکی د هغوئ د دين، مذهب يا کلتوری سابقې په اساس غوره کړي يا يی وټاکي.

## آیا دا ممکن ده چې یو ژباړونکی غوره کړم ترڅوخپله ورسره وګورم؟

هو. د TIS National دفتر په ځای کی د ژباړې خدمتونه برابروي. که تاسو په ځای یا مَحل کی د ژباړونکې شتوالي ته اړتیا ولرئ، تاسو باید هغه اِداری سره چې اړتیا لرئ د TIS National د ټیلیفوني ژباړونکي له لاری اړیکه ونیسئ دهغوی نه وغواړئ چې په ځای کی ستاسو لپاره د یوه ژباړونکي بندوبست وکړي.

## که زه عاجلو خدمتونو سره اړیکې ته اړتیا ولرم څه باید وکړم ؟

که اړتیا لرئ چې د امبولانس، پولیس یا اور وژنې خدمتوو سره په اړیکه کی شی تل 000 ته مستقیم زنګ ووهئ. د 000 عاجل خدمتونو ټیلیفون لین به TIS National ته زنګ ووهي اوتاسو به د یوه ژباړونکي سره د ړومبیتوب لین څخه په استفادی سره 24 ساعته د کال په هره ورځ خدمت کی وصل کړي.

## آیا د TIS National خدمتونه د غیر انګریزي ژبو خبری کوونکو لپاره وړیا دي؟

هو. د TIS National د ژباړې اکثر خدمتونه د غیرانګریزي ژبې خبری کوونکو لپاره وړیا دي. په عمومي توګه هغه اِداره چې تاسو ورسره اړیکه نیسئ د دغه خدمت لګښت په غاړه اخلي. ځنی اِداری او طبي اجراً کوونکي د TIS National له لاری د وړیا ژباړې خدمت څخه د کاراخیستلو وړ دي.

ځنی اِداری شاید د TIS National ټیلیفون ونه مني، بیا هم که تاسو مستقیماً اِداری ته زنګ ووهئ کیدای شي هغوی تاسو ته بیرته د ټیلیفوني ژباړونکي سره یوځای زنګ ووهي.

که تاسو یوی اِداری سره چې د TIS National پیرودونکی نده اړیکه ونیسئ او اِداره خوښه نوي چې د خدمت لپاره لګښت قبول کړي، تاسو اختیارلری چې یو شخصي حساب جوړکړی او خپله د خدمت لګښت ورکړئ. د دی کار لپاره ژباړونکي او زموږ چلوونکي تهووایی چې د TIS National سره د حساب په جوړیدو کی درسره مرسته وکړي. تاسو د شخصي حساب جوړیدو لپاره کریډت کارت لرولو ته اړتیا لرئ .

## آیا زه کولای شم سندونه د TIS National له لاری وژباړم؟

نه. د TIS National دفترد سند ژباړې سوداګریزخدمت نه برابروي.

د Department of Social Services (DSS) د سند د ژباړې وړیا خدمت د وړ آسترالیایانو او هغه کډوالو ته چې د تل استوګنې لپاره آسترالیا ته راغلي وړاندي کوي. د دی خدمت په هکله مالومات په خپله سیمه کی د Adult Migrant English Program (AMEP) چمتو کوونکي سره اړیکه ونیسئ.

د ژباړې نورولارو په اړوند مالومات کولای شئ د National Accreditation Authority for Translators and Interpreters (NAATI). لاری لاسته راوړئ.

## د TIS National د یوه ژباړونکي دنده څه ده؟

د ژباړونکي دنده دا ده چې ستاسو په ژبه کې ویل شوی کلمه په دُرسته توګه چې ممکن ویوژباړي.

ژباړونکي مشوره نشي فراهمولای او نباید چې پوښتني پرته د هغه څه چې د TIS National چلوؤنکي یا هغه کس له خوا چې تاسو ورسره په اړیکه کی یاست شویدي وکړي.

د TIS National ژباړونکي د اخلاقیاتو قانون لاندی مُقید دي. قانون د هغوی مسلکي کړه وړه او متنوع مُکلفیتونه احتوا کوي چې په هغه کی شامل دي:

- مسلکي کړه یا سلوک
- رازداری / محرمیّت
- قابلیت
- بی پلوي
- دُرستوالی/ دقت
- د دندی د حد وضاحت
- د مسلکي اړیکو ساتنه
- مسلکي وده اوبهبود
- مسلکي همبستګی.

د اخلاقیاتو د قانون په اړوند زیات مالومات د Australian Institute of Interpreters and Translators (AUSIT). څخه ترلاسه کولی شئ.

## د یوه ژباړونکي څخه په ډیره مؤثره توګه زه څنګه باید ګټه واخلم؟

تاسو کولای شی د TIS National د یوه ژباړوُنکي څخه په ډیره مؤثره توګه په لاندی ډول ګټه واخلئ:

- خپل ټول مالومات چې ورته د ټیلیفون کولولپاره اړتیا لری مخکی لدی څخه چې TIS National ته زنګ ووهئ تیارکړئ.
- مخکی لدی څخه چې بیا خبری وکړئ حوصله ولری او ژباړونکي لپاره صبروکړئ ترڅوهغه ژباړه پای ته ورسوي
- لنډی جملی اِستِعمال کړئ
- د عامیانه یا مات ګوډ خبرو څخه ډډه وکړئ دا کیدای شي ژباړه کول مُشکل کړي
- د ژباړونکي دندی باندی پوه شی
- د ژباړونکي نه سلامشوره یا چې ستاسو لپاره وکالت وکړي غوښتنه مکوئ
- که تاسو د ژباړونکي د ژباړي په پوهیدو کی ستونزه لری ژباړونکي ، اِداره یا TIS National پری سمدستي خبرکړئ.

## زه خپله کتنه یا نظر TIS National ته په څه ډول برابرکړم؟

د شفاهي یا لیکني ملي خدمت، ژباړونکي یا چلوؤنکي په اړوند د کتنی یا نظربرابرولو لپاره مهرباني وکړئ TIS National ته په 131 450 شمیره زنګ ووهئ. کوم وخت چې د یو ژباړونکي سره په اړیکه کی یاست چلوؤنکي ته ووایئ چې تاسو غواړی TIS National ته خپله کتنه یا نظر وړاندی کړئ. ستاسو کتنه او نظر به ثبت او د TIS National اړوند ډلي ته د پام کی نیولو لپاره راجع شي.